(Published on *Institute for War and Peace Reporting* (https://iwpr.net)



# [په ننگرهار کې د] ښځینه ښوونکو د شمېر زیاتوالی

**Author:** IWPR Afghanistan

د نجونو د زده کړې په وړاندې د اوږدې مودې خنډونو لرې کېدو ته د پرمختګ په سترګه کتل کیږي.

د ځایي چارواکو په وینا له تېرو دوو کلونو راهیسې د افغانستان په ختیځ، ننگرهار ولایت کې د ښځینه ښوونکو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

له پرمختګ سره د مخالفو دودونو او همدارنګه د دندو د لږوالي له امله د ښوونکو د روزنې له پوهنځیو څخه زیات شمېر فارغې شوې مېرمنې د خپلې خوښې په ډګر کې کار نشي موندلای.

د ننگرهار ولایت د پوهنې د ریاست له خوا د چمتو شوو معلوماتو پر بنسټ دمګړ په ننگرهار کې ۱٤۰۰ تنه ښځینه ښوونکې پر دندو بوختې دي. په ۲۰۱٤ کال کې دا شمېره تر یو زر پورې رسېده.

د جلال آباد ښار په څلورمې ناحیې کې د آلایي د لېسې مدیرې، مینې شېرزاد وویل، د نارینه ښوونکو په پرتله د ښځینه ښوونکو د شمېر زیاتوالی له ورایه څرګندیږي.

هغې وویل: «له یوې ورځې نه بلې ته د ښځینه ښوونکو شمېر زیاتیږي. دا کار د زده کړې د بهیر د ودې او پراختیا لپاره یو ښه خبر دی. زه له کورنیو څخه غوښتنه کوم چې خپلې لوڼې پرېږدي زده کړه وکړي او له دې لارې په هېواد کې د ډېر شمېر نجونو د روزلو زمینه چمتو کړي.»

په ننگرهار کې ټول ټال ۹۰۲ ښوونځي موجود دي چې ۸۲۰ زره زده کوونکي پکې لوست لولي. په دې ډله کې ۲۸٦ لېسې او پاتې نور لومړني او منځني ښوونځي دي.

د ننگرهار د پوهنې د ریاست په وینا نجونې د زده کوونکو ٤۰ سلنه جوړوي.

د جلال آباد د ښار په پنځمه ناحیه کې د نازو انا د لېسې مدیرې، شیما وویل: «د ښځینه ښوونکو د شمېر زیاتوالی یوه لویه بریا ده. موږ او زده کوونکي له دې امله خوښ یو.»

نوموړې په دوام وویل: «پخوا مو د ګوتو په شمېر ښځینه ښوونکې درلودل، زیاتره د لوړ عمر لرونکو نارینه ښوونکو تدریس کاوه. اوس د ښځینه ښوونکو شمېر لوړ شوی دی. هغوی هم خوشاله دي چې کار کوي.»

د نازو انا په لیسې کې په دندې یوې نوې ګومارل شوې ښوونکې، مهینې وویل، په ښوونځي کې د زده کړې پر مهال یې ټول ښوونکي نارینه وو.

هغې په دوام وویل، اوس دا خبره سرچپه شوې ده.

نوموړې وویل: «ما تل غوښتل ښوونکې شم، چې د نجونو په زده کړه کې مرسته وکړم. نن مې خوب رښتیا شوی او د نازو انا په لیسه کې ښوونکې یم. له نورو ښځو هم غوښتنه کوم چې ښوونکې شي.»

د ننگرهار د والي د دفتر رئیس، احمد ضیا عبدلزي هم د ښځینه ښوونکو د شمېر د لوړېدو ستاینه وکړه.

هغه وویل: «ولایتي اداره په دې اړه زیار کاږي چې اسانتیاوې چمتو کړي، د ښځینه ښوونکو شمېر لوړ کړي او د ښوونځیو موجودې ستونزې هوارې کړي.»

د پوهنې د ریاست د رسنیو مشر، محمدآصف شینواري وویل، د پوهنې ریاست د ننگرهار په بېلا بېلو ولسوالیو کې د ښځو د روزنې له یو شمېر مرکزونو سره مرسته کړې ده.

سره له دې چې زیات شمېر ښځې د ښوونکې په توګه روزل شوې دي، خو یو شمېر یې نه غواړي دا کاري فرصت ترلاسه کړي.

د ننگرهار د ښوونکو د روزنې رئیس، داوود ابراهیم خېل وویل، هر کال شاوخوا ۱۵۰۰ تنه ښځینه زده کوونکې فارغیږي.

شاوخوا ۵۰۰ تنه د کورنیو د مخالفت، امنیتي ستونزو او د پوهنې د وزارت د نه استخدام له امله د ښوونکې په توګه کار نشي کولای.

د قاري دین ګل په نامه د ننگرهار یوه مدني فعال وویل، د نجونو له زده کړو سره د مرستې په موخه بنسټیز کارونه روان دي.

هغه وویل: «د ښځینه ښوونکو د شمېر زیاتوالی یو ښه خبر دی. موږ خپلو هڅو ته دوام ورکوو او په لرې پرتو سیمو کې د خلکو د معلوماتو د کچې د لوړلو د پروګرامونو له لارې دا پیغام خلکو ته رسوو چې د نجونو زده کړه ټولنې ته څومره اړینه ده.»

ابراهیم خېل له دې سره موافق دی چې نور ډېر کار ته اړتیا شته. هغه وویل: «اوس موږ د پخوا په پرتله ډېر نارینه او ښځینه زده کړه لرونکي ښوونکي لرو. موږ هڅه کوو د ښوونې او روزنې سیستم مسلکي کړو.»

د ښځینه ښوونکو د شمېر زیاتوالی د نجونو په زده کړه کې مهمې پایلې لري.

که کورنۍ ویوهیږي لوڼو ته یې ښځینه ښوونکې لوست وایي، نو اجازه به ورکړي چې ښوونځیو ته لاړې شي. زده کوونکي په خپله د ډاډ احساس کوي او په ازادانه ډول ټولګیو ته ځي.

د نازو انا د لیسې زده کوونکې، رڼا وویل: «اوس ډېره خوشاله یم چې ښځینه ښوونکې لوست راکوي. د پوښتنو کول راته ډېر اسان

بریښي. پخوا به مې له نارینه ښوونکو څخه پوښتنو کولو ته زړه نه ښه کولو.

**Location:** افغانستان
**Topic:** Education
Women
**Focus:** Afghanistan: Promoting Human Rights and Good Governance

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D9%BE%D9%87-%D9%86%D9%86%DA%AF%D8%B1%D9%87%D8%A7%D8%B1-%DA%A9%DB%90-%D8%AF-%DA%9A%DA%81%D9%8A%D9%86%D9%87-%DA%9A%D9%88%D9%88%D9%86%DA%A9%D9%88-%D8%AF-%D8%B4%D9%85%DB%90%D8%B1-%D8%B2%D9%8A%D8%A7%D8%AA%D9%88%D8%A7%D9%84%DB%8C